محمد عارف رسولي
٢٠١٧/٠٧/١٨

# روحاني او دولت به يې په کومو انتخابونو فکر کوي

# چې په افغانستان کې خپل تهديد عملي کړي؟

ځو ورځې مخکې د ايران ولسمشر حسن روحاني په تهران کې په يوه نړيوال کنفرانس کې په افغانستان کې د اوبو د سکتور د ودې په هکله په زغرده تهديد وکړ. ده په ډاګه يې وويل چې زموږ د کجکي، کمال خان او سلما بندونه دوی ته د منلو نه دي. ايران له افغانستان د تاريخي لاملونو له کبله او هم د خپلې سيمه ييزې لوړيا غوښتنې (هيژمونی ) او په نړيواله کچه د خپلو موخو د پاللو په پار تل غوښتي د افغانستان په کورنيو چارو کې لاسوهنه وکړي.
کله چې د سيمې هيوادونه لکه په اروپا او يا د نړۍ د نورو پرمختللو سيمو په شان د ګډو اقتصادي همکاريو او ګټو په مزو تړلي وي، په مختلط اقتصاد او صنعت کې داسې ګڼ مليتيزې سترې فابريکې ولري چې شاخونه يې په ګڼو هيوادونو کې وي، تجارتي راکړې ورکړې يې يو پر بل تړلې وي، د انرژۍ او مواصلاتو ګډ سيستم ولري، ګډ مارکيټونه او قوي پلې کيدونکي قوانين او مقررات ولري او ټول هيوادونه له ثبات او ښيرازۍ څخه برخمن وي نو د يوبل په چارو کې د لاسوهنو لاملونه يا له منځه ځي او يا بيخي کمزوري کيږي. دا ځکه چې په يوه ملک کې بې ثباتي په نورو مستقيمه سترې فلج کوونکي منفي اغيزې لري.
خو د پورته شرايطو په نه شتون کې بيا سيمه ييز برلاسي هيوادونه په خپلو کمزورو ګاونډيو هيوادونو کې د لاسپوڅو ګومارلو، د زور وهلو، تابع کولو، وروسته ساتلو، په فرهنګي، سياسي او اقتصادي چارو کې د لاسوهنو پاليسی پرمخ بيايي. دا سيمه ييز ملکونه هڅې کوي چې نړيوال او سيمه ييز رول يې زيات شي، نو د ګاونډيانو تابع کول يې په لمړيتوبونو کې راځي تر څو په نړيوالو لوبو کې له سترو قدرتونو سره ورباندې معاملې وکړي او خپلې ستراتيژيکې ګټې خوندي کړي.
د همدې فرمول په بنسټ، په افغانستان کې ايران او پاکستان دواړه په يو څه توپير همدا پاليسي پرمخ بيايي. په افغانستان کې د تېل شوو پردو اوړدو جګړو او نورو داخلي خاميو تر څنګ دا لاملونو هم زيات رول لری چې زموږ دا دوه ګاونډيان نه غواړي په افغانستان کې شخړې پای ته ورسيږي او افغانان په خپلو پښو ودريږي.
هغوی پوهيږي چې په افغانستان کې قوي ملي بنسټونه (نهادونه) هيڅکله اشخاصو ته اجازه نه ورکوي چې زموږ د هيواد په ملي ګټو له دوی سره معامله وکړي، نو ځکه نه پريږدي زموږ په ملک کې ثبات راشي او خپل ملي نهادونه رامنځته او غښتلي کړو. دوی پوهيږي که په افغانستان کې ثبات راغی او نهادونه ورغيدل نو د افغانستان ګټو ته ژمن کارپوهان به رامنځته او وروزل شي، افغانستان به مالي توان پيدا او د خپلو طبيعي او د اوبو د زيرمو د مديريت، انکشاف او ورڅخه د نړيوالو قوانينو له مخې د سمې ګټې اخيستنې ورتيا به تر لاسه کړي.
له همدې کبله، دوی دواړه زموږ په ماتيدونکي نظام کې تل کمزوري شخصيتونه او خاينې څيرې د خپلو جاسوسي سازمانونو تر ذره بين لاندې ساتي او ورسره مرستې کوي. دواړه ملکونه هڅې کوي چې زموږ په ملک کې د تل لپاره د قومي او لساني کرکو اور بل وساتي، ملي وحدت مو زيانمن کړي، تر څو و کولای شي چې د پردي تر شا زموږ په هيواد کې خپلې ناولې ګټې خوندی کړي.

## روحاني ولې اوس تهديد کوي؟

ولې حسن روحاني ولې د تل په څير په ظاهره دوستي او په پټه کې د دښمنی لاره پرېښوده او برالا تهديد يې وکړ؟ ځينې کار پوهان داسې فکر کوي چې اوس د ايران په رژيم کې داخلي ستونزې مخ په ډېريدو دي او حسن روحاني او کمپ يې د ايران له ستر مذهبي مشر او د هغه له پلويانو سره لاس او ګريوان دي. نو روحاني غواړي چې له کورنيو ستونزو د خپلو خلکو پام د ده په ذهن کې په افغانستان کې جوړو شويو موهومي تهديدونو ته وروګرځوي.
پخوا د شيطان بزرګ ظاهري شعار و چې ايراني چارواکو به خلک ورباندې غولول خو اوس روحاني غواړي غرب ته ځان په کراره ورنيژدې کړي او هغه شعار نه کاروي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

ولې یې افغانستان انتخاب کړ؟ ایرانیانو په افغانستان کې په وروستیو لسیزو کې قوي سیاسي لوبغاړي د خپلو لاسپوڅي په څیر په اختیار کې لرل او له ستر فرهنګي نفوذ څخه برخمن وو. له همدې کبله، د نړیوالې ټولنې د قوي شتون سره سره په کابل کې د ایران د هر پټ او برالا تیري په مقابل کې له شرموونکې پټې خولې کار اخیستل شوی دی. ایرانیانو د څو وروستیو لسیزو په زیاتو وختونو کې د قوي لاسپوڅو، ژور فرهنګي نفوذ، غولوونکو شعارونو، زیاتو پیسو کارولو او خورا ماهرې ډیلوماسۍ د یوې ټولګې (بستې) په کارولو سره افغانانو ته په شهدو کې زهر ورکول. ایرانیانو په خورا مهارت سره زموږ په هیواد کې خپل مزدور قوتونه تقویه کول، زموږ د کلتور، ملي هویت او ملي وحدت مخه یې ډب کوله، د اوبو د بندونو جوړولو او د اوبو د سکتور د ودې مخه یې نیوله، او زموږ په هیواد کې یې ټولې خپلې ستراتیژیکي موخې تر لاسه کولې، نو څکه اړتیا نه وه چې برالا کوم تهدید وکړي. خو اوس داسې مالومیږي چې له ایرانیانو سره ویره پیدا شوې چې کیدای شي په افغانستان کې دا ستراتیژیک موقف له لاسه ورکړي.
د خدای نظام داسې دی چې تیري کوونکي قوتونه که هر څومره ښه تدبیر هم غوره کړي په پای کې خام ثابتیږي. ایرانیانو که په افغانستان کې سالمو قوتونو ته د اسلامي ورورۍ لاس ورکړئ وای، ورسره مرسته یې کړې وای چې افغانستان با ثباته شي د افغانانو په زړونو کې به یې ستراتیژیکي روا ګټې او موقف ورځ تر بلې ټینګېدلای. خو لکه چې وایي کوږ بار تر مزله نه رسي د ایران کاذب شعارونه هم لکه د پاکستان غوندې غولوونکي له اوبو راووتل. اوس تر یو څو خرڅ شوو لاسپوڅو یې پرته ټولو افغاني پرګنو، قومونو او سیمو ته داخبره روښانه او تر لمر ښکاره شوې ده او زموږ دولت هم ورته ځیر شوی دی. اوس ورسره ویره پیدا ده چې کیدای شي دا د څو لسیزو موقف په افغانستان کې له لاسه ورکړي. نو څکه اوس هڅه کوي خپلو بې شرمانه لاسوهنو ته لا زیاتوالی ورکړي، پوله او پلمه ورته جوړه او ګویا مشروعیت ورکړي.
فکر کیږي ایرانیان پوه شوي چې زیات امکان شته چې افغانستان په خپلو پښو ودریږي او د دوی د ناروا ګټو مخه ونیسي. داسې نښې راښکندیږي چې اوس په افغانستان کې د ثبات یو څو لاندې عمده ټکو سره لاس یو کړی دی:
۱ ـ د نړیوال اعتبار لرونکي تکنوکرات، پیژندل شوي پرمختیایي کارپوه او په ملي کچه د عامو افغانانو په زړونو کې د منل شوي ولسمشر ښاغلي اشرف غنی تر مشرۍ لاندې او د ډاکټر صاحب عبد الله عبد الله په مشارکت د ملي وحدت د حکومت دوام ( که څه هم له ګڼو ستونزو سره مخ دی) او اوږد مهاله ستراتیژیک پلانونه د افغان ملت ورځخه زیات ملاتړ، لکه یوه ایراني وکیل چې څو ورځې وویل دوی ( د ځینو افغانانو په خلاف) اشرف غنی ښه پیژني چې څه وړتیاوې لري او که پاته شي افغانستان کوم ځای ته رسولای شي،
۲ ـ په نړیواله او ملي کچه د حزب اسلامی د ستر نفوذ لرونکي رهبر حکمتیار صاحب کابل ته راتګ او له دولت سره سوله،
۳ ـ یو ځل بیا تر څو کلونو وروسته د ستونزو سره سره د افغانسان د دولتي زعامت او نړیوالو سترو قدرتونو او نړیوالو سترو پرمختیایي سازمانانو تر منځ د نظر یو والی او اعتماد،
۴ ـ په افغانستان کې د نوي خوځنده نسل او وړتیا لرونکو کادرونو ورځ تر بلې زیاتوالی،
۵ ـ د عامو افغانانو له ستړیا سره سره په الله متعالی توکل، ستر صبر، زغم، د ستونزو په ګاللو کې ستر او حیرانوونکی مقاومت، او پردیو ته د نه تسلیمېدو ستر ملي او تاریخي هوډ، او
۶ ـ په افغانستان کې د ایران د لاسپوڅو ورځ تر بلې رسوایي او په افغانانو کې یې ګوښه والی او نور زیات لاملونه دي چې کیدای شي ایرانیان یې ډار کړي وي چې افغانستان د بدلون په لور روان دی او دوی یې نه شي کابو کولای.

## د ایران د دسیسو انتخابونه د افغانستان په ضد:

بل سوال دادی چې روحاني او ایراني دولت به په کومو انتخابونو کار کوي چې خدای مه کړه خپل تهدید عملي کړي، افغانستان له خپلو مشروع حقونو محروم او یا یې اوسنی نظام چې د سترګو اغزی یې دی له پښو وغورځوي؟ تیري کوونکي ملکونه کله چې و غواړي ستا په ملک کې د کوم ستراتیژیک پرمختګ مخه ډب کړي، د مقابل لوري د اغفال لپاره په مستقیمه توګه په هغه ساحه کې پخپله ګذار نه کوي. د شرایطو او امکاناتو سره سم د راز راز پیچلو او غیر مستقیمو ورانوونکو تګلارو څخه کار اخلي. د هیواد په د ننه او بهر کې د نظام له دښمنانو سره لاس یو کوي تر څو مخالف نظام نسکور او یا له جدي ستونزو سره مخ او له خپلو موخو را وګرزوي. انګریزانو د امان الله خان په وخت کې او روسانو د شهید داود خان په وخت همدا کار وکړ. هغوی دواړو چې کله په افغانستان او سیمه کې خپلې ګټې په خطر کې ولیدې نو د خپلو داخلي لاسپوڅو په مرسته یې دا دواړه نظامونه نسکور کړل.
اوس هم امکان شته چې ایران به زیاته هڅه وکړي چې د افغانستان اوسنی ملي نظام د پاکستان او یا بل کوم هیواد او په داخل کې د خپلو لاسپوڅو کړیو په مرسته یا بیخي له پښو وغورځوي او یا لږ تر لږه هغه توان ورڅخه واخلي چې سترې ملي پروژې عملي کړي. دوی به هڅې وکړي او نښې نښانې یې هم ښکاري چې هغوی لګیا دي د خپلو لاسپوڅو، پیسو، فرهنګي نفوذ او نورو نظامي او سیاسي لاسوهنو یو ترکیب وکاروي او خدای مه کړه له دې ناولو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

موخو يوې ته ورسيږي. په افغانستان کې د هغو زورواکانو ګوابښونه چي ايران له پخوا وربانديې زياته پانګونه کړې او وربانديې زيات نفوذ لري روښانوي چي ايرانيان تر پخوا زيات فعال شوي او نوېو دسيسو ته يې لاس اچولی دی.
که څه هم طالبانو ژمنه کړې ده چي په افغانستان کې به لويې زيربنايي پروژې نه ګوابښي خو کېدای شي ايران ځيني نوري وسله والي ډلې، د مخدره توکو او انسان تښتوونکو قاچاقبران او نور هغه لاسپوڅي چي په سوريه کې ټريننګ او جنګولي د افغانستان په خاوره کي په کار واچوي او ستونزې راولاړې کړي.
ايرانيان پوهيږي چي که په افغانستان کې يو ځل يو دوه پروژې لکه ټاپي، کاسا زر، د ريل پټلۍ او نور پلې شول د افغانستان له ثبات سره زياته مرسته کولای شي. نو دوی به هڅه وکړي چي په هيڅ سکتور کې کومه ستره پروژه لکه ټاپي او يا بله سرته و نه رسيږي او د ګډوډيو په مرسته د ستراتيژيکو سترو پروژو مخه ډب کړي.

## د ايران په مخکي خنډونه څه دي؟

مخکي مو وويل چي اوس اوس غټ اکثريت افغانان د ايران عزايم ښه پيژني او ورنه کرکه کوي. د دوی زيات لاسپوڅي رسوا شوي او زيات څه نه شي کولای. د نړيوالو حضور په افغانستان کې که څه هم موږ ته به نور زيانونه لري خو ايران به و نه توانيږي چي زموږ اوسنی نظام چپه کړي او يا يې له ستراتيژيکي غټو پروژو را وګرزوي.

## افغانستان ته څه کول په کار دي؟

موږ بايد د ايراني ولسمشر تهديدونه ډېر جدي ونيسو، ستره ننګونه يې خپل ملک ته و بولو او ورته ښه تيار وو. خو بايد پوه شو چي دا ننګونه څنګه په فرصت بدله کړو. موږ ګورو چي تر اوږدو جګړو وروسته زموږ زيات خلک نالوستي، په نورو ملکونو کي کډوال، بيوزله، په قومی تعصبونو کي راګير، د اقتصادی، سياسی او ټولنيز پلوه وروسته پاته شول. زموږ ملي ارزښتونه کمزوري شول او دښمنو قوتونو ته موکه په لاسه ورغله چي زموږ يو شمير خلک د خپلو غولوونکو شعارونو تر اغيزې لاندې راولي او د خپلو دسيسو ښکار يې کړي. نو ځکه د ګاونډيانو داسي برالا تهديدونه هغه هم د افغانستان د خپلو اوبو په سر موږ ته دا لاره اواروي چي د غرض لرونکو او غولوونکو ګاونډيانو اصلي څيرې و خپلو خلکو ته رسوا، په دسيسو يې خبر، عامه پوهاوی زيات، د بهرنيانو لاسوهني بربنډې او ملي وحدت ټينګ کړو.
د روحاني او ورته نورو بهرنيانو څرګندوني او په ناروا پټکي افغانانو ته موکه برابروي چي په خپله خاوره کې خاين او ملي ګټو ته وفادار مشران او ډلې سره بيل کړي. هغه چا چي له ايرانی ريژيم څخه مرستي او پيسې تر لاسه کړې دي د خپل بادار په وړاندې ملي او افغانی دريځ ورته ګران کار دی او اړ دي پټه خوله پاته شي او يا کوم جدي وطنی موقف و نه نيسي. دا به مرسته وکړي چي ايراني مزدوران په ملت کې رسوا او ګوښه شي او بيا به و نه توانيږي چي د وطن دوستی درواغجنی لافي شافي ووهي، د ملي ګټو تيره په سينه ووهي او مزدوري به يې لا نوره ښه بربنډه شي.
هغه اوبه او سيندونه چي د له يوه ملکه بل ته بهيږي خورا پيچلي حقوقي مسئلې لري او کله خو خبره نړيوال حکميت ته راجع کيږي. نو له خپلو ملي ګټو او حقونو ننګه کول پوهه، تخصص، ملي وحدت، ښې حکومتولۍ او ثبات ته اړتيا لري. دا مسئلې له نورو ملکونو په وچو ناندريو او ادعاوو کوم ځای ته نه شي رسيدلای. بلکه بايد په ملک کې په اړوندو مسلکي چارو کې لکه ډيپلوماسي، د مرزي اوبو په هکله نړيوال قوانين، د اوبو انجنيري او هايدرولوجي، چاپيريال ساتنه، اقتصادي ارزونه او نورو ورته ساحو کي وړ کسان وروزو. په هيواد کې په اړوندو ملي نهادونو بايد اړينه پانګونه وکړو، ترڅو توان و مومي او ملت وربانديې ډاډ پيدا کړي غښتلي شوي، د هيواد له اړوندو ګټو ننګه کولای شي او پورته ننګونو ته په مسلکي توګه ځواب ويلای شي.
که افغانان په رښتيا غواړي چي په داسي سيمه ييزو مسئلو کې له خپلو روا حقونو ننګه وکړي نو هر افغان ته اړتيا ده چي په خپل ملک کې ملي وحدت ته د سترګو د کسي په توګه اهميت ورکړي. ځکه د ملي وحدت په نشتون کې موږ نه شو کولای له حريصو او دسيسه کوونکو ګاونډيانو سره بريالي شو.

### د يوه خپلواک، غښتلي او هوسا افغانستان په هيله
### چي وکولای له خپلو مشروع حقونو ننګه وکړي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ